# أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الجَنَّةِ؟ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ، لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لَأَبَرَّهُ، أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ: كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ». «ایا زه تاسو ته د جنتیانو په اړه خبر در نه کړم؟ هر ضعيف انسان چې عاجزي کوي، نو که په الله قسم وخوري، الله به يې قسم پر ځای کړي، او آیا د جهنمیانو په اړه خبر در نه کړم: هر یو جګړه مار، کبرجن او لويې کوونکی انسان

له حارثة بن وهب الخزاعي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: «أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الجَنَّةِ؟ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ، لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لَأَبَرَّهُ، أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ: كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ». «ایا زه تاسو ته د جنتیانو په اړه خبر در نه کړم؟ هر ضعيف انسان چې عاجزي کوي، نو که په الله قسم وخوري، الله به يې قسم پر ځای کړي، او آیا د جهنمیانو په اړه خبر در نه کړم: هر یو جګړه مار، کبرجن او لويې کوونکی انسان».

[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنتیانو او دوزخیانو د ځینو ځانګړتیاوو په اړه فرمايي. د جنت اکثره خلک به: "هر ضعیف او عاجزه انسان وي" یعنی: هغه چې الله تعالی ته خاکساري او عاجزي کوي، خپل ځان يې د هغه په وړاندې ذليله کړی وي، تر دې چې ځينې خلک يې کمزوری او سپک ګڼي، په داسې حال کې که چېرته همدا د الله تعالی په وړاندې عاجزه انسان په الله تعالی د هغه د سخاوتمند په تمه قسم یاد کړي، نو الله تعالی به يې قسم محقق او هغه غوښتنه به يې پوره کړي چې ده پرې قسم یاد کړی او دعا به يې قبوله کړي. او ډېری د اور خاوندان هغه انسانان دي چې زيږ او سخت جګړه مار وي، او یا هر هغه بد فعله انسان چې هيڅ خېر ته غاړه نه ږدي، هغه کبرجن، زيات خوراکي، د غټ جسم خاوند چې د تګ پر مهال په کبر او غرور سره ګرځي، بد خويه، او حق نه منونکی وي، او تل نورو ته په سپکه ګوري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3573

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee